مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۵۸** (از ۹ الی ۱٦ سرطان ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ..... ۲

### پروسهٔ صلح افغانستان و بن‌بست مذاکرات بین‌الافغانی

فشارهای روز افزون بر طالبان ..... ۴

طالبان و مذاکرات بین‌الافغانی ..... ۵

نقش امریکا در مذاکرات صلح ..... ٦

نتیجه‌گیری ..... ۷

### حکومت پلوه وسله‌والي ملېشې د حکومت پر وړاندې

سیمه‌ییزې وسله‌والې ملېشې ..... ۹

ناقانونه او بشر ضد کړنې ..... ۱۰

د حکومت او سیمه‌ییزو وسله‌والو ټکر ..... ۱۱

د واک او ځواک د جزیرو پر ضد د حکومت دریځ ..... ۱۲

## مقدمه

د کوچني اختر په دریو ورځو کې د افغان حکومت او طالبانو دوه‌اړخیز اوربند په پراخه کچه د افغان سولې بهیر د بریالي کېدو هیلې راوټوکولې او داسې وانګېرل شوه، چې ګواکې د پردې تر شا د سولې خبرې روانې دي او دا اوربند هم تر ډېره د هماغو هڅو پایله ده. خو له دغه اوربند وروسته طالبانو ځو ځله له افغان حکومت سره هر ډول پټې او ښکاره خبرې رد کړې او یو ځل بیا یې له امریکا سره په مخامخ خبرو ټینګار وکړ.

په بل اړخ کې داسې ښکاري، چې په خبرو اترو کې د امریکا د شاملېدو په اړه د طالبانو د غوښتنې په تړاو د امریکا او افغان حکومت دریځ د پخوا په پرتله نرم شوی او د سولې په خبرو کې د لومړي ځل لپاره د امریکایي ځواکونو د راتلونکي برخلیک په اړه خبرې کېږي. خو حکومت او امریکا لاهم پر بین‌الافغاني خبرو اترو ټینګار لري، کوم څه چې طالبان یې ردوي. دا چې د بین‌الافغاني تفاهم په تړاو دا بن‌بست د سولې بهیر په کوم لوري بیایي؟ هغه پوښتنه ده، چې په اړه یې د اوونیز تحلیل په لومړۍ برخه کې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې بیا د سیمه‌ییزو ملېشو او حکومت د ټکر په اړه لولئ. تېره اوونۍ په فاریاب ولایت کې د جنرال دوستم د ملېشو قوماندان له یوې وسله‌والې نښتې او څو تنو ته له مرګ‌ژوبلې اوښتلو وروسته ونیول شو. دغه ګام د ځواک د سیمه‌ییزو جزیرو په تړاو د افغان حکومت د قاطع اقداماتو پېښنه وبلل شوه او په اړه یې د ملاتړ او مخالفت غږونه هم پورته شول. دا چې وسله‌والې ملېشې ولې او څه ډول جوړې شوې او دا مهال یې په اړه د افغان حکومت دریځ څه دی؟ هغه پوښتنې دي، چې د تحلیل په دې برخه کې یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

# پروسهٔ صلح افغانستان و بن‌بست مذاکرات بین‌الافغانی




آلیس ولز، معاون وزارت خارجهٔ ایالات متحده در امور آسیای مرکزی و جنوب آسیا هفتهٔ گذشته در جریان سفرش به کابل، به خبرنگاران گفت که با آماده‌گی امریکا برای پیوستن به گفتگوهای صلح و صحبت روی آیندهٔ نیروهای خارجی در افغانستان، دیگر هیچ توجیهی برای طالبان نمانده که مذاکرات صلح با حکومت افغانستان را رد کند.

رئیس جمهور غنی نیز طی کنفرانس مطبوعاتی در مورد صلح و ختم آتش‌بس یک‌جانبه با طالبان، یک بار دیگر از طالبان خواست تا به ندای صلح حکومت و مردم افغانستان لبیک بگویند و خاطر نشان ساخت که با توجه به اجماع ملی و بین‌المللی در رابطه به صلح افغانستان، به هیچ کسی در قضیهٔ صلح حق "ویتو" را نخواهد داد.

اما گروه طالبان پس از فشارهای اخیر برای مذاکرات صلح با حکومت افغانستان، با نشر چندین اعلامیه خواست حکومت و مردم افغانستان برای مذاکرات بین‌الافغانی را رد کرده و حتی حرکت‌های صلح‌خواهانه در ولایات مختلف کشور را پروژهٔ امریکایی عنوان کردند.

پرسش اینجاست که با توجه به مواقف اخیر جهت‌های درگیر در بارهٔ مذاکرات صلح، تلاش‌ها و فشارهای روز افزون بر طالبان برای آغاز مذاکرات بین‌الافغانی و موقف تند طالبان در برابر آن، بالآخره سرنوشت پروسهٔ صلح چه خواهد شد؟

## فشارهای روز افزون بر طالبان

فشارهای گوناگون به سطح ملی و بین‌المللی بر طالبان برای حاضر شدن به گفتگوهای صلح، بخش اساسی راه‌کار صلح رئیس جمهور غنی را تشکیل می‌دهد. به همین دلیل، نخستین کار رئیس جمهور غنی متقاعد کردن و تحت فشار گرفتن پاکستان برای وارد کردن فشارها بر طالبان بود که با تلاش‌های فراوان موفق به این کار نشد و با از سرگیری این تلاش‌ها در چند ماه اخیر نیز، تاکنون نتیجه‌ای در پی نداشته است.

حکومت وحدت ملی، همزمان با فشارهای سیاسی به فشارهای نظامی بر طالبان نیز توجه بیشتر کرد. در سه سال گذشته نه تنها اینکه چندین بار دستور عملیات وسیع تهاجمی در مناطق مختلف کشور برای سرکوب طالبان را داد، از راه‌کار جنگی و حملات هوایی امریکا در افغانستان نیز حمایت کرده است. به همین دلیل، رئیس جمهور غنی هفتهٔ گذشته در کنفرانس مطبوعاتی خویش گفت: «در استراتیژی امریکا در رابطه به افغانستان و جنوب آسیا، هدف از استعمال قوه، صلح است».[1]

جانب دیگر این فشارها نیز، فشارهای مذهبی و اجتماعی بر طالبان است. رئیس جمهور غنی در کنار اینکه از حرکت‌های اجتماعی صلح‌خواهانه حمایت کرده، بارها جنگ جاری طالبان را از لحاظ شرعی نیز نقد کرده و بر فتواهایی که برضد جنگ جاری در داخل و خارج از کشور صادر شده، استناد کرده است. مهم‌ترین این تلاش‌ها، نشست علمای دینی در اندونیزیا، نشست علمای دینی در کابل و نشست آینده در عربستان سعودی به شمار می‌رود.

هدف اساسی این همه فشارها، آغاز گفتگوهای صلح میان طالبان و حکومت افغانستان و مذاکرات بین‌الافغانی است. به همین دلیل، رئیس جمهور پروسهٔ صلح به رهبری و مالکیت افغان‌ها را یگانه راه صلح در کشور می‌خواند و صلح با حزب اسلامی را، نمونهٔ موفقیت این طرح عنوان می‌کند.

از آنجاییکه که پس از سال ۲۰۱۴ تلفات نیروهای خارجی در جنگ افغانستان به پایین‌ترین حد آن رسیده و بیشترین قربانیان جنگ جاری در هر دو جانب را افغان‌ها تشکیل می‌دهد، حرکت‌های صلح‌خواهانه مردم و به نحوی فشارهای اجتماعی بر طالبان نیز بیشتر شده است.

فشارهای اخیر، مایهٔ نگرانی طالبان نیز شده و به تبلیغات وسیع و موقف‌گیری تند در برابر آن پرداخته اند. چنانچه با نشر اعلامیه‌ای در برابر فتواهای اخیر، آنرا بخشی از فشارهایی خواند که جان نیکولسن قوماندان

[1] متن سخنرانی رئیس جمهور در کنفرانس مطبوعاتی در مورد صلح و آتش‌بس: https://president.gov.af/ps/6/30/18

عمومی نیروهای ناتو در افغانستان در ماه مارچ سال جاری در مورد آن سخن زده بود و از فشارهای مذهبی در برابر این گروه نیز یادآور شده بود. اظهارات یک جنرال امریکایی در پنتاگون، مبنی بر «تکفیری» خواندن طالبان و گروه داعش و «مجاهدین» خواندن نیروهای افغان و امریکایی، مورد دیگری بود که طالبان از آن به نفع خویش استفاده کردند.

## طالبان و مذاکرات بین‌الافغانی

طالبان به عنوان جهت اصلی جنگ حکومت افغانستان و نیروهای خارجی در کشور، هیچگاه رسماً گفتگوهای صلح با حکومت افغانستان را نپذیرفته اند، هرچند در پشت پرده و در نشست‌های غیررسمی با نماینده‌گان حکومت افغانستان گفتگو کرده‌اند.

انکار طالبان از گفتگوهای صلح بین‌الافغانی به چند عامل ذیل برمی‌گردد:

**نخست:** در میدان جنگ بزرگترین تهدید برای این گروه، حملات هوایی نیروهای خارجی به شمار می‌رود و به همین دلیل، جنگ جاری در کشور را بین‌الافغانی نمی‌خوانند و راه‌کار جنگی امریکا و حضور نیروهای خارجی و ادامۀ عملیات آن‌ها برضد طالبان را، ادامۀ «اشغال» افغانستان از سوی امریکا عنوان می کنند.

**دوم:** طالبان حکومت افغانستان را فاقد صلاحیت می‌دانند و همواره تاکید کرده‌اند که حکومت افغانستان نمی‌تواند روی عامل اصلی جنگ یعنی حضور نیروهای خارجی در کشور تصمیم بگیرد. در کنار این، از اختلافات داخلی حکومت وحدت ملی و مخالفین سرسخت طالبان در داخل نظام نیز هراس دارند که در صورت آغاز گفتگوها با حکومت، با مخالفت آن‌ها مواجه خواهند شد. ازین‌رو، رئیس جمهور نیز هفتۀ گذشته به موانع داخلی صلح اشاره کرد و گفت که صلح خواست ملت افغانستان است و به کسی اجازه نمی‌دهد آنرا رد کند.

**سوم:** با آغاز گفتگوهای صلح با حکومت افغانستان، داعیۀ طالبان مبنی بر «اشغال» کشور تضعیف می‌شود و به همین دلیل، این گروه در چنین وضعیتی از باختن روحیۀ جنگجویان خویش برای جنگ در برابر حکومت هراس دارد. از همین جاست که پس از آتش‌بس اخیر و برخورد نرم برخی افراد طالبان با نیروهای حکومتی، برای رد داعیۀ بین‌الافغانی بودن جنگ جاری، تلاش‌های خویش را چندین برابر کرده‌اند.

## نقش امریکا در مذاکرات صلح

ایالات متحده پس از آنکه با مخالفت شدید کرزی به دلیل آغاز گفتگوها میان امریکا و طالبان در قطر مواجه شد، همواره به مذاکرات طالبان با حکومت افغانستان تاکید کرده است. اما انکار طالبان از مذاکره با حکومت و پافشاری بر گفتگوهای صلح با امریکا، پروسهٔ صلح را با بن‌بست مواجه کرده است. به همین دلیل، در قدم نخست رئیس جمهور غنی در جریان آتش‌بس سه‌روزهٔ طالبان در عید گذشته، برای نخستین بار از گفتگو در مورد نقش آیندهٔ نیروهای خارجی در کشور سخن زد؛ و سپس وزارت خارجهٔ امریکا نیز به «اشتراک» در گفتگوهای صلح با طالبان و بحث روی آیندهٔ نیروهای امریکایی در افغانستان ابراز آماده‌گی کرد.

هرچند موقف ایالات متحدهٔ امریکا در مورد صلح افغانستان در سال‌های گذشته بیشتر روی حمایت از گفتگوهای صلح حکومت افغانستان با طالبان می‌چرخید، ولی موقف اخیر مقام‌های امریکایی تغییری در رابطه به استراتیژی امریکا در بارهٔ صلح افغانستان پنداشته شد.

به نظر می‌رسد طالبان تا کنون به اظهارات اخیر مقام‌های امریکایی به دیدهٔ شک می‌نگرند و به همین دلیل هیچ‌گونه واکنشی به اظهارات مقام‌های امریکایی در این مورد نشان نداده‌اند. در حالیکه آماده‌گی امریکا برای گفتگو با طالبان، مهم‌ترین خواست این گروه در خصوص راه‌حل سیاسی قضیهٔ افغانستان به شمار می‌رود، خاموشی طالبان در مورد اظهارات اخیر مقام‌های امریکایی، به معنای ادامهٔ خواست آن‌ها برای گفتگوهای مستقیم با طالبان است.

اما امریکا و حکومت افغانستان معذرت‌هایی نیز دارند و به نظر نمی‌رسد که این خواست طالبان به آسانی برآورده شود. امریکا در حال حاضر نمی‌خواهد حکومت افغانستان را که در نتیجهٔ تلاش‌ها و مصارف ۱۷ سالهٔ جامعهٔ بین‌المللی به میان آمده، در گفتگوهای صلح کنار بزنند و مستقیما با طالبان وارد گفتگو شود. از سوی دیگر، حکومت افغانستان نیز نمی‌خواهد که به عنوان یک جهت بی‌تاثیر از گفتگوهای صلح کنار زده شود و به همین دلیل بر گفتگوهای صلح به رهبری و مالکیت افغان‌ها تاکید دارد. در کنار این، حکومت افغانستان در جایگاهی نیز نیست که امریکا را تحت فشار قرار دهد.

## نتیجه‌گیری

تلاش‌های پایان دادن به جنگ ۱۷ سالهٔ افغانستان از طریق تفاهم بین‌الافغانی از چندین سال به این‌سو، به خصوص پس از خروج بخش بزرگ نیروهای خارجی از کشور، جریان دارد، ولی عملا برای آغاز گفتگوهای صلح با طالبان تاکنون توفیقی نداشته است.

حکومت وحدت ملی با طرح مشخص و تاکید بر "مالکیت افغان‌ها" خواهان گفتگو با طالبان است که در نشست دوم پروسهٔ کابل با وضاحت بیشتر از سوی رئیس جمهور اعلام شد، اما مشکل این طرح، سکوت در بارهٔ عامل اصلی ادامهٔ جنگ طالبان در کشور بود.

پس از آتش‌بس اخیر گزارش‌هایی از گفتگوهای پشت پرده با طالبان به نشر رسید و مقام‌های شورای عالی صلح افغانستان نیز می‌گویند که در چند روز آینده، گفتگوهای مستقیم با طالبان آغاز خواهد شد. ولی با توجه به موقف اخیر طالبان و رد نمودن هرگونه مذاکرات با جانب حکومت افغانستان، دو احتمال وجود دارد. نخست اینکه این گفتگوها با برخی افراد طالبان و تحت فشارها صورت خواهد گرفت و مانند مذاکرات "مری" خیلی زود متوقف خواهد شد. دوم اینکه با برخی افراد سابق طالبان مذاکره صورت خواهد گرفت و طالبان آنرا مانند مذاکرات "ارومچی" به رسمیت نخواهند شناخت.

در حال حاضر، نیاز به نقش فعال ایالات متحدهٔ امریکا در پروسهٔ صلح افغانستان، به عنوان یکی از جهت‌های جنگ جاری، دیده می‌شود. به همین دلیل، تا زمانیکه امریکا جدول زمانی خروج نیروهای خویش از افغانستان را روی میز مذاکره قرار ندهد، تلاش‌های جاری برای آغاز مذاکرات صلح نیز توفیقی نخواهد داشت. پایان

# حکومت پلوه وسله‌والې ملېشې د حکومت پر وړاندې



سیمه‌ییز وسله‌وال ځواکونه، د امریکا او افغان حکومت له لوري ظاهراً په افغانستان کې د امنیت د ټینګښت په موخه، رامنځته شوې ملېشې دي. دغو وسله‌والو ملېشو که له یوې خوا د لنډ مهال لپاره له خپلو سیمو څخه د دولت د وسله‌والو مخالفینو پر وړاندې دفاع کړې؛ خو په بل اړخ کې، څه وخت وروسته په همدغو سیمو کې د واک او ځواک په جزیرو بدلې شوې او ببرته د افغان دولت لپاره په یوه ګواښ او سرخوږي اوښتې دي.

د دغو وسله‌والو ملېشو له ډلې، تازه په فاریاب ولایت کې د جنبش ګوند پلوو سیمه‌ییزو وسله‌والو جنګیالیو یو قوماندان او په دغه ولایت کې د جنرال دوستم ځانګړی استازی نظام الدین قیصاري، هغه څوک دی چې د دولت په پیسو اخیستل شوې وسلې یې ببرته پر دولتي ځواکونه ورتاو کړې او آن د حکومت لوړ پوړي پوځي چارواکي یې مخامخ په یوه جلسه کې په مرګ وګواښل.

نظام الدين قيصاري که څه هم د حکومت له لوري نيول شوی او تېنګار کوي، چې نوموړی به پرې لګېدلو تورونو ته ځواب وايي؛ خو پلويانو يې په جوزجان، فارياب او سرپل ولايتونو کې د تاوتريخجو لاريونونو له لارې، د نوموړي ژر تر ژره خوشي کېدو غوښتنه وکړه.

په افغانستان کې د سيمه‌ييزو وسله‌والو ملېشو ښکارندې او کړنو ته کتنه، د واک او ځواک د جزيرو په جوړېدو کې يې رول او بالاخره له حکومت سره د دغو ملېشو ټکر، هغه موضوعات دي چې دلته يې په اړه شننه لولئ.

## سيمه‌ييزې وسله‌والې ملېشې

د هېواد د امنيت ساتلو په برخه کې له سيمه‌ييزو وسله‌والو ملېشو څخه کار اخيستل، په افغانستان کې اوږد تاريخ لري. دغو ملېشو د ۱۳۵۷هـ ش کال د ثور د ۷مې له کودتا را وروسته د کمونيستانو په وخت کې ورځ تر بلې زور واخيست او د وخت په تېرېدو سره يې ورو ورو قومي او قبيلوي رنګ خپل کړ. له هغه را وروسته، ډېری وختونه د حکومتونو له لوري د دغو ملېشو رامنځته کول بېرته يا د هماغه نظام پر وړاندې خنډ ګرځېدلي او يا هم د هېواد دننه د قومي او فرقه‌يي جګړو لامل شوې دي.

پر افغانستان د امريکا له بريد او د طالبانو د رژيم له ړنګېدو راوروسته، په لومړيو کلونو کې د ناقانونه وسله‌والو او زورواکانو د بې‌وسلې کولو لپاره د "ډي ډي آر" (DDR) او ور پسې د "ډاياګ" (DIAG) تر نامه لاندې پروګرامونه پيل او پلي شول؛ خو څو کاله وروسته د جګړې په ګرمېدو سره بېرته خپله بهرني ځواکونه، چې په لومړيو کې يې د ملېشو د ختمولو په نوم سلګونه ميليونه ډالر مصرف کړل، د سيمه‌ييزو وسله‌والو ملېشو د رامنځته کولو لپاره لاس په کار شول.

په ۲۰۱۰م کال کې، کله چې جنرال پېټريوس په افغانستان کې د نړيوالو ځواکونو عمومي قوماندان وټاکل شو، د طالبانو د ځپلو لپاره يې د عراق د تجربې له مخې د سيمه‌ييزو ملېشو د جوړولو طرحه وړاندې کړه. افغان دولت هم دغه طرحه د "افغان سيمه‌ييزو پوليسو" (ALP) ترنامه لاندې تصويب او په ۲۰۱۱م کال کې د وخت ولسمشر حامد کرزي د فرمان له مخې رسميت ورکړل شو، چې اوس‌مهال يې شمېر شاوخوا دېرش زره (۳۰۰۰۰) تنو ته رسېږي.

له لومړي سره په کومو سيمو کې چې سيمه‌ييزې وسله‌والې ملېشې رامنځته شوې، له يوې خوا زياتره د ملي انگيزې خلاف په قومي حساب رامنځته شوې او په بل اړخ کې د دغو ملېشو قومانده د هغو کسانو په لاس کې وه، چې په سيمه کې به زورواکی يا پخوانی وسله‌وال و؛ له همدې کبله زياترو يې د جرمي او جنايي کړنو مخينه لرله او په پراخه کچه پر ناقانونه او بشر ضد کړنو تورنې شوې.

## ناقانونه او بشر ضد کړنې

په افغانستان کې د امريکا له لوري د سيمه‌ييزو ملېشو رامنځته کول په لوی لاس افغانان يو ځل بيا له هغه گواښ سره مخ کول وو، چې په تېر کې يې خورا ترخې تجربې ترې لرلې. نړيوالې ټولنې دغه ترخې تجربې بابېزه وگڼلې او د "سيمه‌ييزو پوليسو" په نوم يې زورواکو او پخوانيو جگړه‌مارو قوماندانانو ته د وسله‌والو ملېشو د رامنځته کولو زمينه برابره کړه.

په دغو ملېشو کې د حکومت له لوري د گمارنې د ميکانيزم او پروسې خلاف د بهرنيو ځواکونو، سيمه‌ييزو زورواکانو او قوماندانانو د نفوذ له امله تر ډېره هغه بې‌سواده کسان گمارل کېدل، چې جرمي مخينه يې لرله او نظم او قوانيو ته ژمن نه وو. له همدې ځايه ده چې د افغانستان په ډېری سيمو کې يې خپل‌سري فعاليتونه کړي، د واک او ځواک کوچنۍ جزيرې يې رامنځته کړې او ډېری مهال په قانون او بشر ضد کړنو تورن دي.

د بې‌گناه خلکو وژل او ځورول، غلاوې، جنسي تېري او لسگونه نور جرمونه هغه فعاليتونه دي، چې په افغانستان کې د بشري حقونو د نړيوالو او کورنيو بنسټونو د راپورونو له مخې، د سيمه‌ييزو وسله‌والو ملېشو له‌خوا ترسره شوي دي.[2]

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون په ۱۳۹۱هـ ش کال کې د يوه راپور په خپرولو سره وويل، چې د هېواد په بېلابېلو سيمو کې "سيمه‌ييز پوليس" ناامنيو ته لمن وهي او د تاوتريخوالي د زياتېدو سبب شوي دي. راپور دغه راز کاږي، چې په ټوله کې "سيمه‌ييز پوليس" د مرکزي حکومت اوامرو ته پام نه کوي او د دوی په ليکو کې تر ډېره هغه کسان ځای پر ځای شوي، چې له دې وړاندې يې له ناقانونه وسله‌والو ډلو سره فعاليت درلود.

[2] صدای امریکا، واکنش شدید مردم علیه اربکی‌ها و پولیس محلی:
http://www.darivoa.com/a/afg-arbakies-134499768/1440220.html
همچنان، رادیو آزادی، اربکی‌ها در تخطی‌ها از حقوق بشر دست دارند:
http://da.azadiradio.com/a/24326482.html

په بل اړخ کې د ملګرو ملتونو سازمان د بشري څانګې د یوه راپور پر بنسټ چې د ۲۰۱۱م کال په پیل کې خپور شو، ویل شوي وو، چې د افغانستان په یو شمېر سیمو کې کم‌عمره ماشومان د سیمه‌ییزو پولیسو په لیکو کې ګمارل کېږي او جنسي کار ترې اخیستل کېږي.

## د حکومت او سیمه‌ییزو وسله‌والو ټکر

نظام الدین قیصاري د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ امنیه قوماندان او په جنبش ګوند پورې تړلو سلګونه ملېشه ځواکونو مشر دی، چې ظاهراً د حکومت په ملاتړ له طالب او داعش وسله‌والو سره جنګېږي؛ خو شته ځواک او زورواکي یې د دې لامل شوه، چې تېره اوونۍ (۱۳۹۷ سرطان ۱۱مه) یې په ۲۰۹شاهین قول اردو کې د یوې امنیتي غونډې پرمهال د افغان پوځ چارواکو ته توندې خبرې او ګواښونه وکړل.

د ۲۰۹شاهین قول اردو د خبرپاڼې له مخې، قیصاري په غونډه کې برخه‌وال خاینان وبلل او ویې ویل چې «تاسو وژنم، دولتي تاسیساتو ته اور اچوم او په میمنه کې حکومتي نظام ړنګوم». خبرپاڼه زیاتوي چې له دغو خبرو وروسته نوموړي وسلې ته لاس کړ او وسله‌واله نښته رامنځته شوه، چې بالاخره د افغان امنیتي ځواکونو له لوري له نیولو وروسته کابل ته انتقال شو.

دا هغه وروستۍ پېښه ده، چې د حکومت او سیمه‌ییزو وسله‌والو او زورواکانو د احتمالي ټکرونو ښکارندویي کوي. پوښتنه دا ده چې د دغو وسله‌والو ملېشو او حکومت ترمنځ د ټکر لاملونه څه دي؟ په دې تړاو لاندې ټکي د پام وړ دي:

**لومړی**؛ په افغانستان کې د سیمه‌ییزو وسله‌والو ملېشو قومي بڼه بنسټیزه ستونزه ده. د همدې قومي بڼې له کبله ډېر کله په خپل منځ کې هم شخړې کوي. دغه ملېشې د هېواد په مهمو او حساسو مسایلو کې تل قومي اړخ خپلوي او د حکومت خلاف دریځ نیسي.

**دویم**؛ سیمه‌ییزې وسله‌والې ملېشې زیاتره په هغو سیمو کې فعالیت کوي، چې د نورو حکومتي ځواکونو حضور په‌کې کم وي. په دې توګه نه یوازې دا چې له شته ځواک او امکاناتو څخه په خپله ګټه کار اخلي؛ بلکې د خلکو او حکومت د فشار پر مهال په اسانۍ سره له حکومت څخه بغاوت هم کولی شي.

**دریځم؛** سیمه‌ییزو وسله‌والو ملېشو ته پوځي لارښوونې او روزنې نه ورکول کېږي. دغه راز د حکومت له لوري د دوی په چارو او کړنو لازم نظارت هم نه کېږي. همدا لامل دی، چې زيات شمېر يې په آزاد ډول خلک ځوروي، غلاوې کوي او حتی د خلکو پر مال او ناموس تجاوز کوي، چې دغې چارې د خلکو او حکومت ترمنځ واټن هم زيات کړی دی.

## د واک او ځواک د جزيرو پر ضد د حکومت دريځ

په تېرو ۱۷ کلونو کې افغانستان ته د راغلو پیسو او نړيوالو مرستو يوه ډېره برخه د حکومت د حاکمیت ټینګښت په موخه، د سیمه‌ییزو ځواکونو د جوړولو لپاره داسې کسانو ته ورکړل شوه چې هر يوه يې د ځان لپاره د واک او ځواک جزيرې پرې جوړې کړې او د مرکزي حکومت لپاره يې د سیاسي او امنيتي ثبات په برخه کې خنډونه جوړ کړي دي.

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وروسته، د ولسمشر د لومړي مرستيال جنرال دوستم د خپلسرو کړنو پرضد اقدامات، د سیمه‌ییزو وسله‌والو ملېشو د واک او ځواک د ځپلو په برخه کې د حکومت د هغو قاطع ګامونو ښودنه کوي، چې په شمال کې يې تر ټولو ځواکمنو ملېشو پرضد پورته کړي دي.

د بلخ له والي عطامحمد نور سره سیاسي جوړجاړی هم هغه هڅه وه، چې په شمال کې د واک او ځواک د پیاوړې جزيرې د کمزورې کولو لپاره وشوه؛ خو د دې ترڅنګ لا هم په لویه کچه د هېواد په بېلابېلو برخو کې افغان حکومت له پیاوړو سیمه‌ییزو زورواکانو سره مخ دی، چې يوه بېلګه يې هم په کندهار کې د امنیه قوماندان بغاوت دی.

ولسمشر غني څو ورځې وړاندې په ۲۰۱ سیلاب قول اردو کې د وينا پر مهال وويل، چې له دې وروسته نامسوول وسله‌وال ږ ته د منلو نه دي او جدي پرېکړه يې کړې چې نامسوول وسله‌وال به د قانون منګولو ته سپاري. له همدې کبله، يوازې په تېره يوه اوونۍ کې د دولت له لوري د نظام الدين قيصاري ترڅنګ، نادرشاه په بدخشان کې او د ارزګان د امنيت پخوانی آمر رحيم الله په کابل کې، هغه نيول شوي نظاميان دي چې د افغان دولت په وينا د قانون ماتونې او زورواکۍ ګڼ تورونه پرې لګېدلي دي.

له دې ټولو سره سره، باید وویل چې په افغانستان کې قومي سیاست او سیمه‌ییزو وسله‌والو ملېشو، تل د هېواد سیاسي او امنیتي ثبات له ګواښ سره مخ کړی او د قومونو د نفاق او کورنیو جګړو لامل شوي دي. څکه نو له هر څه دمخه، د سیمه‌ییزو وسله‌والو ملېشو د رامنځته کولو او تقویه کولو د مخنیوي اړتیا ده. که څه هم د سیمه‌ییزو وسله‌والو پر ضد د حکومت د اوسني دریځ په غبرګون کې یو شمېر کړی او ځینې سیاسیون هڅه کوي، چې تر بېلابېلو نومونو لاندې پر حکومت فشار وارد کړي؛ خو که حکومت په هېواد کې د واک او ځواک سیمه‌ییزې جزیرې له منځه وړي، د دغو فشارونو پر وړاندې درېدل به یې هم یوه برخه وي.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق ارشد:** حکمت الله ځلاند (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com